**مطبوعاتي اعلاميه**

**له امت څخه واک اخیستل، پر هغوی ظلم او پر مقدساتو یې بریدونه کول د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې ستر جرم دی**

(ژباړه)



ظالم او مستبد رژیمونه په ځانګړې توګه د شام ظالم او جنایتکار رژیم له امت څخه واک اخیستی، پر مقدساتو یې بریدونه کوي، د ځېونکو څارګرو ادارو په مټ دوی په نښه کوي، وېره او وحشت پکې خپروي، تر دې چې خلک له خپلو نږدې خپلوانو سره د دولتي چارو په تړاو د خبرو کولو جرئت هم نه لري.

د شام غیرتي اوسېدونکو وکولی شول، چې د شام د مبارک پاڅون په ترڅ کې هلته وېره او وحشت له منځه یوسي او د هغه هیواد د وژونکي او جنایتکار نظام د مشروعیت په له منځه وړلو سره یې یوه لویه اتلولي خپله کړه.

بېلا بېلې ډلې له ګڼو لیډلورو او نومونو سره راوټوکېدې، مشرانو یې له بهرنیو هیوادونو سره تړاو پیدا کړ او د زهرجنو سیاسي پیسو له لارې یې د رژیم د پرځولو پرځای هڅه کوله، چې په ازادو شوو سیمو کې خپل کنترول زیات کړي او یو له بل سره یې د کنترول د پراخوالي لپاره جګړې پیل کړې.

د اقتدار غوښتنې د ذهنیت پر بنسټ او د سوچه اسلامي ذهنیت په نه شتون کې نوموړو ډلو استبدادي حالت حاکم کړ او هڅې یې پیل کړې چې له خلکو څخه واک او اختیار په زوره ترلاسه کړي او آن د دوی شخصي شتمنۍ یې لوټ کړې، پر مقدسو ځایونو یې بریدونه ترسره کړل او بې ځایه وینې یې تویې کړې. دوی د امنیتي خنډونو له امله د ډېرو عامو خلکو په زړونو کې وېره خپره کړه، همدا وو چې خلک پر دوی بې باوره شول.

پر مقدساتو او شخصي شتمنیو بریدونه یوازې وحشي کړنې نه وې چې دوی ترسره کولې، بلکې هلته او دلته د «مشروعیت» اوازونه هم پورته شول. د دې لپاره چې دغه وحشي کړنې د خلکو د حقونو څخه سرغړونه او خپلمنځي جګړو ته مشروعیت ورکړي، نو د فتواوو په مټ به یې توجیه کولې، ترڅو له دې لارې د دمشق وژوونکي او جنایتکار رژیم ته امتیاز ورپه برخه کړي.

موږ خپلو مخلصو مجاهدو ورونو ته ور په زړه کوو، چې پر خلکو د ظلم کولو او د دوی د عامه ملاتړ څخه د ناوړې ګټې له لارې خپل ځانونه د دښمن په لومه کې مه ښکېلوئ. موږ دوی ته یادونه کوو، چې د خلکو شتمنې مه لوټوئ او له خلکو سره ظلم مه کوئ. دوی په دې موخه پاڅون کړی، چې له ځانونو او له خپلو هغو خلکو څخه ظلم او بې عدالتي لرې کړي، چې د دوی ریښتني ملاتړي دي. که دوی دغه ملاتړي له لاسه ورکړي، د دوی لپاره به هیڅ ملاتړ او مرسته نه وي او د دوی لپاره به د سراب په څېر کاذب ملاتړ وي، چې د وخت په تېرېدو سره به له منځه ولاړشي. تر هر څه د مخه موږ دوی ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث ورپه زړه کوو، چې فرمايي:

**«الظُّلْمُ ظُلُمَاتٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ»** (متفق علیه)

***ژباړه:*** *ظلم د قیامت له تاریکیو څخه یوه تیاره ده.*

نو د دې بې عدالتۍ پر وړاندې هوښیار اوسئ او د هغه چا پر وړاندې هوښیار شئ، چې تاسو ته د دغې کړنلارې د پلې کېدو لپاره شکمنه فتوا درکوي. خپل لومړني حالت ته را وګرځئ، لکه څرنګه چې مو د پاڅون پیل کې درلود. د الله، د هغه سبحانه وتعالی د دین او د خپلو هغو خلکو او ورونو چې د الله سبحانه وتعالی تر مرستې وروسته ستاسې د مرستې په تمه دي، ملاتړ وکړئ. د مظلومانو ملاتړ وکړئ او د ظالمانو له ملاتړه لاس واخلئ.

موږ هغو مخلصو مجاهدو ورونو ته تذکر ورکوو چې د شام د پاڅون په ترڅ کې ثابت ولاړ دي او دوی هغه څوک دي چې تر ټولو ظالم او مجرم رژیم، د هغه د امنیتي ادارو او پوځي ځواکونو پر خلاف یې پاڅون وکړ، د دې موخې لپاره یې سترې قربانۍ ورکړې او دوی باید د ظالمانو لاسونه ورلنډ کړي. که د دغه ظالمانو پر وړاندې چوپتیا غوره کړو، نو دوی به روان ظلم ته لا نور هم دوام ورکوي. زموږ خوږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم موږ ته امر کوي، چې د ظالمانو او وحشیانو لاسونه لنډ کړئ، هغه صلی الله علیه وسلم فرمايي:

**«كَلَّا، وَاللَّهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ، وَلَتَنْهَوُنَّ عَنِ الْمُنْكَرِ، ولَتَأْخُذُنَّ عَلَى يَدِ الظَّالِمِ، ولَتَأْطُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ أَطْراً، ولَتَقْصُرُنَّهُ عَلَى الْحَقِّ قَصْراً، أَوْ لَيَضْرِبَنَّ اللَّهُ بِقُلُوبِ بَعْضِكُمْ عَلَى بَعْضٍ، ثُمَّ لَيَلْعَنَكُمْ كَمَا لَعَنَهُمْ»** (ابو داود او ترمذي)

***ژباړه:*** *داسې نه ده، پر الله دې مې قسم وي، چې تاسو به په نېکۍ امر کوئ، له منکر څخه به منع کوئ، د ظالم لاسونه به له ظلمه لنډوئ، له ظلمه به یې حق ته څخوئ او ریښتنې لارې ته به یې نږدې کوئ، که نه الله سبحانه وتعالی به ستاسو د ځینو زړونه د نورو له زړونو سره بوخت کړي او الله سبحانه و تعالی به پر تاسې داسې لعنت وکړي لکه څرنګه چې یې پر مخکنیو کړی و.*

تاسې د الله سبحانه وتعالی په ملاتړ او پر هغه سبحانه وتعالی په باور سره کولی شې چې د ظالمانو مخه ونیسئ او د دوی پرځای مخلصو مسلمانانو ته واک ورکړئ.

ریښتنی واک په تاسو پورې تړاو لري، واک مه پرېږدئ او هغه چا ته یې وسپارئ چې وړ یې وي. خپلې قربانۍ له لاسه مه ورکوئ او پر ظالمانو له تکیه کولو څخه ډډه وکړئ، ترڅو پر الله سبحانه وتعالی مو عقیده پیاوړې شي او له هغه سبحانه وتعالی سره مو ژمنې پوره کړې وي، چې پر بنسټ به یې د هغو کسانو ملاتړ کوئ چې د الله عزوجل او د هغه د دین ملاتړ کوي. له هغو خلکو سره کار وکړئ، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر طریقه د خلافت تر چتر لاندې د الله سبحانه وتعالی قانون واکمنوي. هغه خلافت به

تاسیسوي چې د خلکو چارې د الله سبحانه وتعالی د قانون پر بنسټ سرته رسوي، د خلکو حقونه ورکوي او د ظالمانو د ظلم مخه نیسي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَى أَمْرِهِ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾** [يوسف: ۲۱]
***ژباړه:*** *الله سبحانه وتعالی پر هر څه غالب دی؛ خو اکثره خلک نه پوهېږي.*

**احمد عبدالوهاب**
**د حزب التحریر- ولایه سوریې د مطبوعاتي دفتر رییس**
**د صدور شمېره: ۰۰۴/ ۱۴۴۰**
**۱۴۴۰هـ.ق، د ربیع الاول ۲۶مه**
**۲۰۱۸م، د ډسیمبر ۴مه، سه شنبه**